مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوري

۲۰۲۶/۰۶/۲۵

# دموکراسي؛ د افغانستان د راتلونکي لپاره يوه اړتيا

دا ليکنه مي د ۲۰۱۶م کال د جون په ۲۱مه، د هغه وخت له سياسي او ټولنيزو شرايطو سره سمه ليکلې او (دموکراسي اړينه ده) تر سرليک لاندې خپره کړې وه. نن، لس کاله وروسته، که څه هم حالات په ډېرو برخو کې بدل شوي، خو د دې ليکنې اساسي مفاهيم او پوښتنې لا هم خپل اهميت لري. له درنو لوستونکو او ځوانو سياسي فعالينو څخه هيله لرم چې دا او زما نورې تيوريکي او عملي لارښوونکې ليکنې په دقت ولولي، ورباندې فکر وکړي او خپل علمي او رغنده نظرونه شريک کړي.

دا ليکنه د دموکراسی د ماهيت، ارزښت او اړتيا په اړه ده. دموکراسي هغه نظام او فرهنګ دی چې د حکومتونو په جوړولو او د ټولنې په اداره کې د خلکو ونډه اساسي او نه بدلېدونکی اصل ګڼي. دموکراسي يوازې ټاکنې، شعارونه او سياسي ادعاوې نه دي؛ بلکې د فکر آزادي، د قانون حاکميت، حساب ورکونه، د خلکو مشارکت، د بشري حقونو درناوی او د نظرونو زغم د هغې بنسټيز عناصر دي.

زموږ په ټولنه او ډېرو سياسي او ټولنيزو سازمانونو کې لا هم د دموکراسی اصلي مفهوم په بشپړه توګه نه دی درک شوی. ډېر ځله د جمهوريت په چوکاټ کې د دموکراسی تر نامه لاندې داسي کړنې ترسره شوې چې له دموکراتيکو ارزښتونو سره په ټکر کې وې. د همدې ناسمو کړنو له امله د دموکراسی نوم او اعتبار زيانمن شوی او د خلکو باور پرې کمزوری شوی دی.

د هېواد د سياسي ستونزو يو مهم لامل د غير دموکراتيکو ذهنيتونو او جوړښتونو دوام دی؛ خو ستونزه يوازې دلته نه ده. هغه کسان او سازمانونه چې ځانونه د دموکراسی پلويان بولي، هم ډېر ځله په خپلو داخلي فعاليتونو کې د شفافيت، حساب ورکوني، مشارکت او داخلي دموکراسی اصول نه عملي کوي. په ډېرو سياسي ګوندونو او سازمانونو کې د پرېکړو واک د محدودو اشخاصو او کوچنيو ډلو په لاس کې راټول شوی وي، د غړو نظرونو ته کافي اهميت نه ورکول کېږي او د رهبری دودونه له دموکراتيکو معيارونو سره واټن لري.

همدارنګه د اتحادونو، ائتلافونو او ګډو سياسي نوښتونو پر مهال ډېر ځله د غړو او پلويانو اراده له پامه غورځول کېږي او مهمې پرېکړې د تړلو دروازو تر شا ترسره کېږي. د افغانستان او نړۍ تجربو ثابته کړې ده چې دا ډول معاملې نه شي کولای پراخ ولسي او سازماني ملاتړ رامنځته کړي. دوامدار باور هغه وخت رامنځته کېږي چې د سياسي همغږۍ او يووالي ټول بهيرونه روښانه، حساب ورکوونکي او د خلکو پر وړاندې ترسره شي.

نوي شرايط نوې لارې چارې غواړي. د شلمې پېړۍ د مسلطو شرايطو د سياسي مبارزو دوديزې طريقې نه شي کولای د يوويشتمې پېړۍ د ټولنو پېچلو ننګونو ته بشپړ ځواب ووايي. د تېرو لسيزو تجربو موږ ته وښوده چې پوهه، نوښت، ټکنالوژي، سازماني انعطاف، مدني مشارکت او د خلکو باور د هر بريالي سياسي حرکت اساسي شرطونه دي.

نن تر بل هر وخت زياته اړتيا ده چې په ځوان نسل کې د آزاد، انتقادي او مسؤل تفکر روحيه پياوړې شي. موږ بايد داسي دموکراتان وروزو چې د خپلواک فکر خاوندان وي، د ټولنې د ستونزو د حل لپاره نوښت ولري او د هېواد د راتلونکي په جوړولو کې فعاله ونډه واخلي. دموکراسي هغه وخت ژوندي پاتې کېږي چې خلک يوازې د سياست نندارچيان نه، بلکې د بدلون فعاله برخه وال وي.

دموکرات ځواکونه بايد خپل حضور د ټولنې په ټولو برخو کې پياوړی کړي؛ په رسنيو، مدني بنسټونو، مسلکي اتحاديو، علمي او فرهنګي مرکزونو، ټولنيزو شبکو او د خلکو په ورځني ژوند کې. د بدلون اغېزمنه مبارزه يوازې د غونډو، اعلاميو او سياسي بحثونو له لارې نه بريالۍ کېږي، بلکې هغه مهال اغېزمنه وي چې د خلکو له واقعي اړتياوو، ستونزو او هيلو سره تړاو ولري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

افغانستان د داسې سیاسي او ټولنیز فرهنګ اړتیا لري چې د نظر د اختلاف زغم ولري، د تنوع درناوی وکړي، د ښځو او نارینه وو د برابر مشارکت زمینه برابره کړي، د ځوانانو استعدادونه وغوړوي او د هېواد ټول بشري ظرفیتونه د ملي پرمختګ لپاره راټول کړي.

دموکراسي یوازې د حکومت کولو یوه طریقه نه ده؛ بلکې د ګډ ژوند، متقابل درناوي او ګډ مسؤلیت فرهنګ دی. هر څومره چې د دموکراسۍ ارزښتونه زموږ په سیاسي چلند، سازماني فعالیتونو او ټولنیزو اړیکو کې ژورې ریښې وکړي، هماغومره به د یوه عادلانه، باثباته، متحد او پرمختللي افغانستان د جوړېدو امکانات زیات شي.

د افغانستان راتلونکی نه د زور، انحصار او حذف په سیاست کې، بلکې د مشارکت، عدالت، قانونمندۍ او د خلکو د آزادې ارادې په درناوي کې نغښتی دی. د همدې لپاره دموکراسي یوازې یو انتخاب نه، بلکې د هېواد د تلپاتې ثبات، ملي یووالي او پرمختګ یوه حیاتي اړتیا ده.

۲۱/ جون / ۲۰۲۶م



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ